مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر لودویګ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۲/۱۰

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
## دوهم ټوک
## (دوهمه برخه)

**مننه**

د دا ډول اثر لیکل د ډېرو کسانو له مرستي پرته ناشونی وو، دا زما دنده ده چي په دې وسیلي له هغو سلهاوو افغانانو څخه مننه وکړم چي د بایوګرافیکي معلوماتو په اړه ئـې زما غوښتنو ته ځوابونه ورکړي دي. زه له ډاکټر روان فرهادي او ډاکټر خلیل الله هاشمیان څخه د زړهٔ له تله منندوی یم او ددوی پوروړی یم. دوی دواړو په دې پروژې کي خپله ډېره لېـوالتیا وښودله او د هر ډول مشورې او مرستي لپاره ئـې هـېڅکله ځان نـهٔ دئ سپمولی. دوی ددې اثر لومړنی مسوده ولوستله او ارزښتمن وړاندیزونه ئـې وړاندي کړل. نورو کسانو هم مرسته او مشوره راکړې ده چي په هغو کي ډاکټر میر. م. الف. فرهنګ، سید قاسم رشتیا، میر محمد صدیق فرهنګ او عنایت شهراني راځي. ځرګنده ده چي که هر ډول تېـروتنه پـېښ سوي وي مسؤولیت ئـې زما دئ.

**یادونه** : کله چي د یوهٔ یا څو تنو نومونه یو شان وي او ددې لپاره چي روښانه سي چي په عکسونو کي کوم عکس د چا دئ هلته مو د اړوند نوم په پای کي د ستوري نښه ایښي ده. په دې توګه د عبدالخالق په عکس کي د هغهٔ د نوم په پای او عکس سره ئـې یو ستوری راغلی دئ. که د یوهٔ نوم لپاره دوه عکسونه وي نو د نوم پای او د عکس تر څنګ ئـې په ترتیب ستوري راغلي دي.

# WHO'S WHO IN AFGHANISTAN

### عبدالغفور اَبَـوي

د محمد ابراهیم زوی، په ۱۹۲۴ز کال کي په کابل کي زېږېدلی دئ. په قوم یوسف زی دئ. په ۱۹۴۶ز کال کي د اماني له لیسي څخه فارغ سوی دئ. په ۱۹۵۱ز کال کي ئـې د کابل له پوهنتون څخه د اقتصاد لیسانس تر لاسه کړی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ

دئ. په ۱۹۶۰ز کال کې جرمني ته تللی او په ۱۹۶۳ز کال کې د «ارلانګن» [1] له پوهنتون څخه فارغ سوی دئ. په ۱۹۴۷ز کال کې ئـې له برتانيې څخه او ۱۹۶۷ز کال کې ئـې له امريکا څخه ليدنه کړې ده. د کرنې په وزارت کې د کوپراتيفونو د مدير په توګه مقرر سوی دئ. د کرنې د پرمختيا د بانک يو رسمي مأمور وو. په ۱۹۶۶ز کال کې د قره قل د سوداګرۍ د پرمختګ مرستيال اجرائيوي رئيس وو. له مېـرمن شفيقې سره ئـې واده کړی دئ.

## ډاکټر خليل احمد ابوي

د نثار احمد زوی، په ۱۹۳۰ز کال کې زېږېـدلی دئ، په قوم يوسف زی دئ. د اماني له ليسې څخه فارغ سوی دئ. د کابل له پوهنتون څخه ئـې په حقوقو او سياسي علومو کې د فراغت سند او د «فري برګ» [2] له پوهنتون څخه ئـې دکتورا تر لاسه کړې ده.  د کابل پوهنتون د حقوقو استاد او په ۱۹۶۴ز کال کې د اساسي قانون د مشورتي کميسيون غړی. په ۱۹۶۴ز کال کې د تالقان والي. په ۱۹۶۶ز کال کې د لوګر والي. په ۱۹۶۷ز کال کې د پروان والي. په ۱۹۷۱ز کال کې د لغمان والي. له ۱۹۷۳ – ۱۹۷۵ز کال پورې د جوزجان والي.  او د ۱۹۸۰ز کال د جنورۍ د مياشتې په لسمې نېټې د بلخ والي. د تره کي او امين د واکمنۍ پر مهال د پل چرخي په زندان کې زنداني. د سيمه ييزو حکومتي سازمانونو د لارښونو لپاره د مرکزي اداري» [3] عمومي رئيس. تر ۱۹۸۳ز کال پورې د «حکومتي پلان جوړونې د کميټې» [4] رئيس. په ۱۹۸۳ز کال کې د وزيرانو د شورى مرستيال رئيس. په ۱۹۸۴ز کال کې له خپل مقام څخه معزول کړل سو. واده ئـې کړی دئ، مېـرمن ئـې د ملالۍ د ليسې ښوونکې ده.

## جنرال محـمد عمر ابوي : وګوره: محـمد عمر

## محـمد يحيى ابوي

د امير احمد زوی، د ۱۹۲۹زکال د آګست د مياشتې په ۲۹ نـېټې زېږېـدلی دئ. په قوم يوسف زی دئ. په ۱۹۴۷ز کال کې د نجات له ليسې او په ۱۹۵۱ز کال کې د کابل له پوهنتونه د حقوقو له پوهنځي څخه فارغ سوی دئ.  له ۱۹۵۱ – ۱۹۵۳ز کال پورې په ويانا کې. په ۱۹۶۴ز کال کې ئـې د لويديځ جرمني د «ميونسټر» [5] په پوهنتون کې «په سياسي علومو» کې خپله دکتورا تر لاسه کړه.  له ۱۹۵۱ تر ۱۹۷۸ز کال پورې د اطلاعاتو او کلتور، کرنې او د سوداګريزو چارو په وزارتونو کې دولتي مأمور. له ۱۹۶۴ تر ۱۹۷۸ز کال پورې د کابل پوهنتون استاد. له مېـرمن حفيظې صديق طرزي سره ئـې واده کړی دئ. په ۱۹۸۱ز کال کې له افغانستانه ووت او جرمني ته لاړ.

## جنرال محـمد زکريا ابوي

د امير احمد زوی، په ۱۹۱۸ز کال کې په کابل کې زېږېـدلی دئ، په قوم يوسف زی دئ. په ۱۹۳۸ز کال کې د نجات له ليسې فارغ او په ۱۹۴۱ز کال کې له حربي پوهنتون څخه فارغ سوی دئ. له ۱۹۴۱ تر ۱۹۷۸ز کال پورې د وسلوال

---

[1] -Erlangen University
[2] -Freifburg University
[3] - Central Authority for guiding local Government Organizations
[4] -State Planning Committee
[5] -Muenster University


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ځواک افسر. په ۱۹۷۳ز کال کې د وسله وال ځواک په جنرالی منصوب سو. په ۱۹۷۸ز کال کې د دفاعي اداري رئیس. له ۱۹۷۸ تر ۱۹۸۰ز کال پورې د کابل په پل چرخي زندان کې زنداني. په ۱۹۸۳ز کال ؟ کې له هېواده دباندې وتښتېد.

## محمد ابراهیم عباسي

په ۱۹۲۶ز کال کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۵۷ز کال کې ئې د حقوقو او سیاسي علومو د فراغت سند تر لاسه کړی دئ. په ۱۹۴۳ز کال ئې د مطبوعاتو په ریاست کې کار پیل کړی دئ. په ۱۹۵۲ز کال کې د مطبعي د ریاست د لومړی ځانګي مدیر. په ۱۹۵۴ز کال کې د پوهني ننداري مدیر. په ۱۹۵۵ز کال کې د نشراتو عمومي مدیر. په ۱۹۶۵ز کال کې د کلتوري اړیکو مشر او مدیر. په ۱۹۵۷ز کال کې د اصلاح سرمحرر. په ۱۹۵۹ز کال کې د نشراتو عمومي مدیر. په ۱۹۵۹ز کال کې د انیس د ورځپاڼي سرمحرر. له ۱۹۵۹ تر ۱۹۶۰ز کال پورې ددولتي مطبعي سرپرست رئیس. له ۱۹۵۸ تر ۱۹۶۰ز کال پورې د افغان ژورنالیستانو د ټولني رئیس. په ۱۹۶۳ز کال کې د انیس د ورځپاڼي سرمحرر او رئیس. په ۱۹۶۴ز کال کې آسترلیا ته د تحصیل لپاره لاړ. له ۱۹۶۳ تر ۱۹۶۵ز کال پورې د راډیو افغانستان رئیس. په ۱۹۶۶ز کال کې د میدان والي. په ۱۹۶۸ز کال کې د فاریاب والي. په ۱۹۷۰ز کال کې د هرات والي. له ۱۹۷۱ – ۱۹۷۲ز کال پورې د ډاکتر ظاهر په کابینې کې د اطلاعاتو او کلتور وزیر. له ۱۹۷۴ تر ۱۹۷۵ز کال پورې د انیس د ورځپاڼي سرمحرر. په ۱۹۸۰ز کال کې هندوستان د جواهر لعل نهرو پوهنتون ته لاړ او د مېلمه پروفیسر په توګه کې ئې هلته کار وکړ. د مینه پال او ښتین مډالونه ئې اخیستي دي. مورنی ژبه : دري. وادهٔ ئې کړی دئ. مېرمن ئې نفیسه عباسي نومېږي. ( لاندي شرحه وګورئ)

## نفیسه عباسي

د کونړ او د سید لیکوال سید عبدالحمید لور په ۱۹۴۴ز کال کې په کابل کې زېږېدلې ده. په ۱۹۵۹ز کال کې د ملالی له لیسي فارغه سوې ده. په ۱۹۶۴ز کال کې ئې د کابل پوهنتون د ادبیاتو له پوهنځي څخه خپل لیسانس تر لاسه کړ. په ۱۹۶۳ز کال کې ئې په آسترالیا کې د انګلیسي ژبې تصدیق لیک تر لاسه کړ. په ۱۹۶۵ز کال کې د زرغوني د لیسي ښوونکې. په ۱۹۷۱ز کال کې په کابل کې د مېرمنو د انستیتیوت د سکرتریت مرستیاله مدیره. له ۱۹۷۲ تر ۱۹۷۸ز کال پورې د مېرمن د مجلې محرره. د محمد ابراهیم عباسي مېـرمن. له ۱۹۸۴ز کال راوروسته د امریکا په متحده ایالاتو کې ژوند کوي.

## نعمت الله ابدالي

د حفیظ الله زوی، په ۱۹۲۰ز کال کې په لوګر کې زېږېدلی دئ؛ په ۱۹۳۹ز کال کې له فراغت وروسته د ګردیز د منځني ښوونځي سرښوونکی/ سرمعلم سو. په ۱۹۴۶ز کال کې د مندوزي په ښوونځي کې، او په ۱۹۴۷ز کال کې د سر آسیاب د ښوونځي ښوونکی. د بدخشان د معارف مفتش. شاعر او لیکوال.

## ولي محمد عبدیاني


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د ننګرهار د بهسودو يو پښتون. دی او ورور ئي فضل احمد (مشهور په ډاکټر) د تره کي په رژيم کي زندانيان سول.
په ۱۹۸۰ز کال کي د کابل ښاروال. په ۱۹۸۶ز کال کي د کابل ښار د خلکو د استازو د شورى اجرائيوي رئيس.

**عبدالاحد ملکيار** : وګورئ : ملکيار

## عبدالاحد

د حاجي عبدالقادر زوی(د مرحوم صدراعظم ډاکټر عبدالظاهر او د ډاکټر عبدالقيوم ورور). د کورنيو چارو د وزارت، د پوليسو مشر. په ۱۹۵۷ز کال کي ئي د امريکا په متحده اياالاتو کي د پوليسو په اداري برخه کي روزنه ليدلي ده.

**عبدالاحد وردک** : وګورئ : وردک

## عبدالعزيز

په ۱۸۷۸ز کال کي زېږېدلی دئ. د سردار عبدالله خان زوی دئ، عبدالله خان چي د ايوب خان لپاره ئي جګړه کوله په ګرشک کي ووژل سو. ډګروال. سردار اعلی. محمد زی دئ. د ۲۴ کالو لپاره په فارس کي مهاجر وو. په ۱۹۰۶ز کال کي کابل ته راستون سو او د پوليسو د بولندوی مرستيال يا نائب کوتوال مقرر سو. په ۱۹۱۵ز کال کي په هندوستان کي د هندوستان ددولت لپاره د افغان استازي په توګه مقرر سو. په ۱۹۱۹ز کال کي ئي دنده پای ته ورسېدله او په همدي کال فارس کي وزير مختار مقرر سو او همدلته له رضا خان سره آشنا سو، دا هماغه رضا خان وو چي وروسته رضا شاه سو. په ۱۹۲۵ز کال کي کابل ته راستون سو او د باندنيو چارو د وزارت مرستيال وزير مقرر سو. د ۱۹۲۶ز کال په اپريل کي د باندنيو چارو د وزارت کفيل مقررسو. ذ ۱۹۲۶ز کال په جون کي په روم کي افغان مختار وزير مقرر سو. د ۱۹۲۷ز کال په فبروری کي د رضا شاه په دربار کي په تهران کي وزير مختار مقرر سو. په ۱۹۲۸ز کال کي له دي دندي لېري سو. د ۱۹۲۹ز کال د فبروری په مياشت کي تر هندوستان پوري د الوتکي په وسيلي لاړ او له هندوستان څخه فرانسي ته لاړ چي له نادر خان سره مرکه وکړي. د ۱۹۲۹ز کال د نوامبر په مياشت کي کابل ته راستون سو. د هغۀ دوه زامن عبدالحسين عزيز او عبدالحميد عزيز د افغان حکومت رسمي مأمورين سول. اولادي ئي د «عزيز» کورنی نوم غوره کړ.

## ډګر جنرال عبدالعزيز

د ۱۹۱۹ز کال په شاوخوا کي په جلال آباد کي زېږېدلی دئ. له افغان حربي پوهنتون څخه فارغ. له ۱۹۵۳ تر ۱۹۵۶ز کال پوري توركيي ته د پوځي روزني لپاره لاړ. په ۱۹۵۹ز کال کي د توركيي «ستاف کالج»[6] ته لاړ. توركيي ته د افغان پوځي پلاوي غړی چي په «سين - ير ستاف کالج»[7] کي روزنه ووينې. په ۱۹۵۸ز کال کي د خوست، پکتيا د يوويشتمي فرقي بولندوی. په ۱۹۵۹ز کال کي د بريد جنرال رتبي ته ئي ارتقاء وکړه. په ۱۹۶۱ز کال کي د خوست

[6] - Staff Collage
[7] - Senior Staff College

والي. په ۱۹۶۴ز کال کي تورن جنرال او د پوويشتمي فرقي بولندوی. د ۱۹۷۳ز کال په نوامبر کي د ملي دفاع په وزارت کي د عملیاتو د څانګي مشر. په ۱۹۷۵ز کال کي د ملي دفاع په وزارت کي «سر مفتش» [8]. په ۱۹۷۶ز کال کي ډګر جنرال. د ۱۹۷۷ز کال په اپریل کي ستر درستیز. ۷ ماشومان لري. د ۱۹۷۸ز کال د اپریل په ۲۷ نېټي د غوايي د پاځون په پايلي کي ووژل سو.

## بابه جان، عبدالعزيز

بارکزی پښتون. په ۱۹۳۱ز کال کي له کندهار څخه د ولسي جرګي غړی. مستقل عالم چي استعفی ته مجبور سو. د کندهار ښاروال. د باندنيو چارو په وزارت کي د مطبوعاتو مدير. په ۱۹۳۳ز کال کي د ۱۴ کالو لپاره زنداني سو. په ۱۹۴۶ز کال کي د شاه محمود له پلوه خوشي سو. په کندهار کي د طلوع افغان محرر. د امان الله خان پلوی او د يحيی خيلو ضد، خو وروسته ئـي په ۱۹۳۱ز کال کي د نادرشاه په ولسي جرګي کي د ولسي جرګي د غړي په توګه کار وکړ. په ۱۹۶۶ز کال کي په کندهار کي وفات سو.

### نور بيا

### عبدالعزيز لندني : وګورئ : لندني

[قدرمنو لوستونکو! د ښاعلي رحمت آريا د آرشيف: لينک]

[8] -Inspector General


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالیږلو مخکي په څير و لولـئ